چهارصفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۲۳۹) سال نزدهم شمارهٔ (۱۴۷) پنجشنبه (۱۹) میزان ۱۳۷۵ هـ . ش (۲۸) جمادی الاول ۱۴۱۷ هـ- ق (۱۰) اکتوبر ۱۹۹۶م

جهادی مشران اومهم شخصیتونه په مزارشریف کی راغونډیږی

استاد ربانی ، استاد خلیلی او تورن اسماعیل همدا اوس په مزارکی دی ، د نورمشرانو د ورتگ امکان هم شته

طـالـبـان هـم غـونـډی تـه بـلـل شـوی دی

مزارشریف – دمیزان ۱۸ مه : داسي ښکاري دملي اسلامي جنبش دمشرجنرال عبدالرشیددوستم په دعوت به دهیوادټول مشران اومهم شخصیتونه دافغانستان دحالاتو پــه اړه دیوي پریکنده غونډي لپاره پـه مزارشریف کي راټول شي .

دخبري منابعو درپوټ په اساس دافغانستان داسلامي دولت رئیس استاذ برهان الدین «رباني» همدااوس په مزارشریف کي دي. بل خوا دوحدت اسلامي گوند پـوه استازي له بي بي سي راديو سره دمرکي په ترځ کي ځرگنده کړه چي ددوي دگوند مشراستاذ کریم خلیلي هم مزارشریف تــه تللي دي .

همدارنگه ویل کیږي چي دهیواد صدراعظم ورور حکمتیارهم مزارشریف ته سفرکوي .

دیوه بل رپوټ له مخې ویل شوي چي دهرات پخواني والي اودجمعیت مهم قوماندان تورن اسماعیل هـم مزارشریف ته راغلي دي .

په همدي بنسټ ویل شوي چي دمحاذملي مشر پیرسیداحمد گیلاني هم مزارشریف تــه روان دي، اوپدي مهمه غونډه کي دظاهرشاه یا دهغه دباصلاحیته استازي دگډون امکان هم شته .

په اسلام آباد کي دجنرال دوستم یوه ویاند جنرال یوسف بي بي سي

پاتې «۵» مخ «۲» ستون

الهی لاربوونی

موږ له دینه مخکی موسی هم له خپلو نښانوسره لیږلی دی، هغه ته هم موږ حکم کړی ؤ چی خپل قوم له تروږمیو نه رڼاته وباسه او هغو ته دالهی تاریخ ددرس اخیستنی ورځیښو په اوړولو سره نصیحت وکړه په دغو پیښو کی دهر هغه چا له پاره ستری نښانی[1]چی صبر اوشکر کوونکی وی.

(ابراهیم –۵)

کاپیسا به تصرف نیروهای دولتی در آمد

نیروهای دولتی به استقامت میدان هوایی بگرام درحال پیشروی اند

براساس گزارش رسیده ازولایت پروان نیروهاي دولتي کــه عملیات سراسري درولایت کاپیســا را صبح روزگذشته ازسمت گلبهار وولسوالي نجراب آغاز کرده بودند تـا عصرهمان روز موفق گردیدند تمـام مناطق ولایت کاپیسا را ازتسلط گروه طالبان آزاد نمایند .

درگزارش آمده است طي این عملیات نیروهاي دولتي موفق شدند محمودراقي مرکز ولایت کاپیسا وتمام مناطق ولسوالي هاي نجراب ، تگاب، اله ساي ،کوهستان وقابریکه گلبهاررا آزاد نمایند .

نیروهاي دولتي فـرقه (٦) ، لواي

بقیه درستون «۵» صفحه «۴»

زنان اجازه ندارند درخارج از منزل وظایف رسمی انجام دهند

ملایارمحمد

اگر مخالفان باماهمکاری نمایند حملات ماموقوف خواهد شد

وکیل احمد

قندهار – ۱۸ میزان : درحالیکه مخالفان گروه طالبان درصدد تشکیل جبهه متحد سیاسي درافغانستان هستند مولوي وکیل احمد عضو شوراي طالبان گفته است که طالبان آمـاده مذاکره وگفت وشنود باتمامي جوانب ذیدخل ومطرح درقضیه

بقیه درستون «۳» صفحه «۴»

طالبان کارمند صلیب سرخ را لــت وکـوب کـردنـد

به امداد گران خارجی مقیم کابل هدایت داده شد که بعدازشام ازمنازل خود بیرون نشوند

کابل – ۱۸ میزان : به امدادگران خـارجـي درکابل پایتخت افغانستان ازسوي سازمان هاي آنها اخطار داده شده تا ازخانه هاي شان بعداز شام بیرون نیایند .

براساس گزارش رادیوي « بي بي

بقیه درستون «٦» صفحه «۴»

پاکستان خواهان کمک هاي سازمان ملل به مهاجرین افغان شد

پذیرش مهاجرین جدید،مستلزم افزایش مساعدت جامعه بین المللی است

اسلام آباد – ۱۸ میزان : پاکستان از پذیرش مهاجرین افغان، بحیث مهاجرقانوني درکشورش خودداري نموده ، خواستارعـودت آبرومـندانه آنان به افغانستان مي باشد .

این مطلب توسط سردارمحمد خالد نماینده حکومت پاکستان درچهل وهفتمین اجلاس کمیسیون عالي سازمان ملل متحد درامور پناهندگاه ابرازشده است .

نماینده پاکستان درامور مهاجرین افغان اظهارداشته که کشورمتبوعش طرفداربرگشت مهاجرین افغان به کشور شان بوده تادرفضاي صلح آمیز به افغانستان برگردند .

نماینده پاکستان درامور پناهندگان گفت کـه سازمان ملل متحـد برمافشارمي آورد تاافغان هاي بیشتري

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

به گزارش «CNN»

شکست طالبان روحیه نیروهاي دولتي را تقویه کرد

واشنگتن – ۱۸ میزان : احمدشاه مسعود بابرخورداري ازحمایت مردم و استقـرار درمناطق استراتیژیک وصعب العبور پنجشیر مقاومت شدیدي دربـرابـر نیروهاي

بقیه درستون «۴» صفحه «۴»

مداخلات خارجی درافغانستان ، مسئله راشکل بین المللی میدهد

جامعه بین المللی نگران فعالیت های نظامی طالبان است

مسکو – ۱۸ میزان : اوج گیري فعالیت هاي نظامي درافغانستان، موجب ایجاد مشکلات ونگراني هاي زیادي براي جامعه بین المللي شده است .

پس از تصرف کابل توسط گروه طالبان تحمیل خواسته هاي این گروه برسایر جناح هاي افغان، دور ازامکان به نظرمي رسد، زیـرا گروه طالبان حاضر بـه پذیرش طـرف هاي دیگر قضیه افغانستان نیست .

رادیو مسکوراجع به اوضاع وحالات درافغانستان تبصره نموده، باتذکر مطالب فوق ، جریانات درافغانستان راخطرناك توصیف نموده است .

درین تبصره تذکر رفته که جنگ درشمال کابل جریان دارد، وگروههاي مخالف طالبان ، تمـایل بیشتري به فعالیت مشترك سیاسي دراین کشور نشان میدهـند، از جمله جنرال عبدالرشیددوستم رهـبر جنبش ملي اسلامي واحمدشاه مسعود اخطارکرده اند درصورتیکه عملیات نظامي طالبان

بقیه درستون «۳» صفحه «۴»

امریکا غواړی له طالبانو سره دتماس له لاری دښځو په هکله دهغوی په پالیسی کی بدلون راولی

دښځو په هکله دطالبانو له نظر سره دمخالفت سره سره امریکا ته لـه طالبـانو سره تماسونه اهمیت لری

دامریکا دبهرنیوچارو ویاند

واشنگتن – دمیزان ۱۸ مه : دامریکادمتحده ایالاتو حکـومت غواړي دطالبانو سره دتماس له لاري دښځو په هکله دهغوي په پالیسـي کي بدلون راولي .

دامریکادبهرنیوچارو وزارت یـوه ویاند «میکلزبرز» وایي ددوي حکومت ته له طالبانو سره تماسونه اهمیت لري خو دښځوپه هکله د هغوي له پالیسي سره مخالف دي .

پاتې «۵» مخ «۲» ستون

طالبان دپخوانی حکومت ارتباطی افرادنیسی

کابل – دتلي ۱۸ مه : هرهغه چا چـي دپخواني حکومت سره ارتباط درلود طالبانو لخوانیول کیږي اودهغوي هدف گرځي .

دکابل ښارڅخه دارسیدلي رپوټونو په اساس پـه کابل ښارکي دخیریه

پاتې «۵» مخ «۳» ستون

درگیری های پـراگنده درسالنگ ادامه دارد

اهالی ساکن درکنارجاده سالنگ،خانه وکاشانه را قبلاً ترک نموده بودند

جبل السراج – ۱۸ میزان : درگیري پراگنده همچنان درمنطقه سالنگ جنوبي ادامه دارد و ازروزگذشته این جاده به روي وسایل نقلیه عازم شمال کشور وبالعکس بسته بود .

براساس گـزارش خبرگزاري ایران دربي حمله نیروهاي احمدشاه مسعود درسالنگ تحت فرماندهي عبدالبصیر عالنگي تلفات سنگیني به طالبان وارد شد که حداقل (۱۵) تن آنهاکشته وتعدادزیاد دیگر زخمي شده اند .

بقیه درستون «۴» صفحه «۴»

داسي ښکاری چی جنرال دوستم او مسعود څه تفاهم ته رسیدلی خو ثابته نده

پـه سـالنـگ کـی لنډه جگـړه شـوی ده

مولوی وکیل احمد

کابل – دمیزان ۱۸ مه : دطالبانو یوه ویاند مولوي وکیل احمد تیره شپه له امریکاغږ رادیو سره دمرکي په ترځ کي څرگنده کړه : دسالنگ پـه جنوب دې اولنگ ، په سیمه کي داحمد شاه مـسعود ځواکونو ورورسته تردي چـي دجنرال دوستم ځواکونو ورته لار ورکړي وه طالبانوته کمین نیولي و، البته لنډه جگړه وشوه چي دجگړي په نتیجه کـي دمسعود ټول افراد له منځه لاړل اویو څوتنه طالبان هم مړه یاټپیان شول .

جگړه ددوي په تاوان واوښته ځکه دغه سیمه ټو له بیادطالبانوله خوا تصفیه شوه .

ملاوکیل احمد دغـه خبرته چي

پاتې «۵» مخ «۲» ستون

طالبانو په کابل کی دایران دسفارت کارمنداحضارکړی

کابل – دتلي ۱۸ مه : دطالبانو مقامات په کابل کي دایران داسلامي جمهوریت د سفارت کاردار احضارکړي اوخپل احتجاج یې هغه ته وړاندي کړي .

دکابل څخه دارسیدلي رپوټ په اساس دطالبـانو واکمنو دتوموړي سفارت کار دار زاغوښتي اوهغه ته ئي ویلي چي دایران دمذهبي مشرآیت الله خامنه ئي دوینامڼ چي دهغي په ترځ کي پـه طالبانوباندي انتقاد شوي ؤ هغوي ته وسپاري .

درپوټ په اساس دطالبـانو دغه عمل پرایراني مقامـاتو بـد اثرکړي اوکیدای شي په دي لاره کي جدي اقدام وکړي .

هیچ کس حق ندارد چهره زیبای اسلام را زشت جلوه دهد

تهران – ۱۸ میزان : معاون وزیر خارجه ایران بیانات خامنه ئي رهبرانقلاب اسلامي ایران را درمورد حوادث جاري در افغانستان سخن تمامي امت اسلامي خواند .

براساس گزارش خبرگزاري ایران علاوالدین «بروجردي» معاون آسیا واقیانوسیه وزارت خارجه ایران بااشاره به وقایع اخیر افغانستان گفت :

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

دسره صلیب نړیوالی کمیټی داحمدشاه مسعود غوښتنه ومنله

دسره صلیب نړیـوالي کمیټې داحمدشاه مسعود هغه غوښتنه ومنله چي دطبي مرستو په باب ئي وړختي کړي وه .

نړیوالي کمیټي ژمنه کړي چي دوي به داستاد رباني ترمشري لاندي داسلامي دولت له ځواکونوسره نوروهرستوته هم دوام ورکړي .

نړیوال خبري آژانسونه وائي چـي دسره صلیب نړیواله کمیټه به دیرژر دهواله لاري پـه کافي اندازه درمل دتخارولایت مرکز تالقانوته ورسوي اوهلته بـه یي داسلامي دولت دعامې روغتیادچارو مسئولینوته تسلیم کړي دایران رادیو وویل چي دسره صلیب

موارد خودکشی درکشورهای نزدیک به خط استواکمتر ازبقیه جهان است

لندن – ۱۸ میزان : شمار افرادي که اقدام به خود کشي مینمایند درکشور هـاي نزدیك خط استوا نسبت بـه بقیه کشورهاي جهان کمتر اند .

به گـزارش سازمان صحي جهان بیشترین مـوارد خـود کشي درکشورمجارسـتان روي میدهـد که ازهریکصد هـزارنفـر ۳۸ نفر به خودکشي اقدام مینمایند .

هیئت زنان افغان بانماینده سازمان ملل ملاقات کرد

اسلام آباد – ۱۸ میزان : هیئت شش نفري زنان افغان تحت ریاست فتانه « گیلاني » بادوکتور ناربرت هول نماینده خاص سازمان ملل متحد درامور افغانستان دراسلام آباد دیدار نمود .

هیئت زنان افغانستان راجع به مشکلات موجود زنان افغان به نماینده جدید سازمان ملل متحد، توضیحات داده اظهارامیدواري نمود که جامعه بین المللي به مشکلات مردم جنگ زده افغانستان، توجه جدي مبذول نماید .

دراین دیدار، دوکتور هول پس از شنیدن توضیحات هیئت سازمان افغان اظهارداشت کـه سازمان ملل متحد وادارات جهاني، براي رفـع مشکل زنان افغان وتأمین حقوق اجتماعي

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

هیئت پاکستانی بارئیس جمهورتاجکستان ملاقات کرد

دوشنبه – ۱۸ میزان : یك هیئت پاکستاني که ریاست آنرا جلال حیدر زیدي به عهده دارد درجریان دیدار ازسه کشورهسایه افغانستان درآسیاي میانه روزگذشته وارد تاجکستان شد .

قرارگزارشهاي منابع خبري هیئت مذکور باامام علي رحمانوف رئیس جمهور تاجکستان ملاقات نمود. گرچه این دیداردرپشت درهاي بسته انجام شد اما ظفر سیدوف سخنگوي رحمانوف درمورد این مذاکـرات گفـت که رحمانوف ازرویداد هاي اخیر افغانستان اظهارنگراني کرد وخواستارحل مسالمت آمیز مسائل افغانستان شده است.

درگزارش موضوع اصـلي این ملاقات بررسي اخیرحوادث افغانستان وواکنش کشورهاي آسیاي میانه وروسیه به این حوادث خوانده شده است . براساس گزارش « بي بي سي » درین مذاکرات « زیدي » موضع حکومت پاکستان رادرقبال حوادث اخیرافغانستان توضیح داده وگفته است

بقیه درستون «۱» صفحه «۴»

درحکومت آینده همه اقشار و ملیت های افغان شرکت داشته باشند

رافل

واشنگتن – امریکاعلي الرغم رونماشدن حوادث دراماتیك فعـلي در افغانستان، بـه منافع قبلي خویش تاکید مي نماید .

رابن رافل معین وزارت خارجه امریکا درامور جنوب آسیا درگفتگو با صداي امریکا، موقف واشنگتن درقبال بحران افغانستان را تصریح کرده باتذکرمطلب فوق مي گوید که امریکا درافغانستان منافع خاصي دارد واکنون هم همان منافع قبلي اش راتعقیب مي کند .

معین وزارت خارجـه امریکا درامور جنوب آسیا از اوضاع جاري افغانستان ابرازنگراني کـرده افزود که مامصمیم کمـپ هـاي تخریبکاري وتروریستي درایـن کشور ازبین رفته

بقیه درستون «۲» صفحه «۴»

ولنگ – سه شنبه : ۱۷-۷- ۱۳۷۵: طالبان پس از آنکه دریافتند جنرال دوستم پیشنهاد تسلیمی آنان راتپذیرفته است ، مراضع مخالفین را با دستگاه BM-21 مورد حمله قرارمیدهند

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

گډی غوښتنی ،گډ برخلیک او بیلابیلی لاری

زموږ مقدس جهاد دالهی کلمی دلوړاوی ، اسلامی نظام دقیام او دګران هیواد افغانستان دخپلواکی اوله بهرنی تسلط نه دنجات اوخلاصون په خاطر پیل شوی ؤاودهمدغو سترواو علیا اهدافو دترلاسه کولو له پاره زموږ مسلمان اومجاهد ولس میلیونی قربانی ورکړی ، شهادتونه یی ومنل ،دهجرت کړاوونه یی وزغمل ، دهیواد پرېښودلو او ویجاړېدلو ته یی غاړه کیښوده اودلوی خدای «ج» په مرسته اونصرت پردی بریالی شول چی دروسیی په څېر ستر مادی ځواك ته ماتی ورکړی اوخپل هیواد دکفر اودهریت له پنجو نه وژغوری .

ولی په خورا افسوس سره باید ووایو چی دجهادی تنظیمونو دخپلمنځی اختلافاتو لـه امله دجهاد اصلی هدف په لاسته راوړلو کی چی هماغه دالهی نظام قیام دی بریالی نه شول ،زموږ ددغه ستر هدف دنه ترلاسه کیدو لاملونه که څه هم ډېر اوږدی شمیره دی ، خو ترټولو ستر لامل یی دجهادی تنظیمونو هڅېوه په یوازی ځان دنورو له ګډون پرته او په زړو سترګو ددی خبری څیړونه لیدل وو چی کولای شی افغانستان اداره کړی او هم اسلامی نظام نافذ کړای شی .

دوخت تېرېدلو او دځینو همدغه ځان غوښتنی ترخی تجربی ثابته کړه چی هیڅوك هم نه شی کولای چی په یوازی ځان دنورو له ګډون او همکاری پرته پر افغانستان حکومت وکړی ، دجهاد اهداف پلی کړای شی ، اسلامی نظام قایم کړای شی اوپه نتیجه کی یی الهی کلمه لوړه شی.

که څه هم زموږ زیاترو جهادی قیادتونو دسهیج له سرنه تل دځانله پرواز تجربه ناکامه اوترخه ګڼلی ، خو راقعیت دادی چی تل یی دغه پدېده په خپل ذهن کی پاللی ، اوتر اوسه دکړکیچ ددوام اصلی عامل همدغه دی .

اوس په داسی حال کی چی دجهادی ګوندونو دخپلمنځی اختلافاتو له امله دطالبانو غورځنګ ددوروکلواوخوسپاشتو په موده کی دیو لړ پرپیانیو عملیاتو په نتیجه کی دافغانستان زیاتره برخی ترخپل کنترول لاندی راوستی ، اوله جهادی تنظیمونو او په هیواد کی له ټولو مطرحو قوتونو سره له بیعت پرته په بل ډول خبرو اترو اوپه واك کی دګډون له پاره تیار نه دی ، چی ددغه کار پای دتیرو ترخو تجربو له تکرار پرته بل څه کیدای نه شی.

همدا ډول دهیواد په شمال کی دټولو جهادی ګوندونواو ځینی پخوانیو او له صحنی وتلیو سیاسی لوریو په ګډون دپیراخ پیوستون له پاره هڅی که بل څه نتایج ونه لری ،خودایو تریخ حقیقت تری له ورایه ښکارېږي ،چی دطالبانو دځان غوښتنی او ددغه پیوستون ترمنځ به دیوی بلی خونړی او دوامداری جګړی له پاره زمینه برابرېږی ، اوجګړه ځپلی افغانستان به یوځل بیا دخونړیو جګړو ډګر ګرځی ، اوددغی جګړی ددوام په نتیجه کی به یو ځل بیا دواره لوری دومره کمزوری اوله پښو پرېوځی چی داویو ورځ په څېر هر خس اوخاشاك ته لاس اوږدوی اونتیجه کی به دطالبانو په شمول په ټول افغانستان کی پر ټولو اسلامی قوتونو دهیواد دادارې داستعداد نه لرلو ټاپه لګول کیږی.

لازمه ده چی په هیواد کی هغه ټول قوتونه چی اسلام غواړی ،داسلامی نظام قیام یی هدف وی،دجهاد اهداف ترلاسه کول غواړی او په رښتیا سره ددی هیله لری چی په دغه جګړه ځپلی هیواد کی دی امنیت قایم شی ، سوله دی رامنځته شی ،مهاجرین دی بیرته خپل هیواد ته په ویاړ راستانه شی اوددوران ویجاړ افغانستان دبیا ودانی کاروونه دی پیل شی ،نو دیوبل پرخلاف دی له جګړو او انتقام اخیستنی لاس واخلی ،دیو بل حیثیت اووقار ته په درناوی سره دی پرخپل مظلوم اوجنګ ځپلی مسلمان ولس رحم وکړی او دخپلمنځی خبرواترو له لاری دی دهیواد اوهیواد والو ستونزواومشکلاتو ته دحل لاره پیداکړی ، او که نه نو کفری استعمار ټول اسلامپال قوتونه یوډول دځان دښمنان ګڼی او په هیڅ ډول نه غواړی چی اسلام اومسلمانان دی په افغانستان حاکم شی .

دنجیب دحکومت له نسکوریدو وروسته دحزب اسلامی افغانستان دمجاهد قیادت دادریځ چی هیڅوك په یوازی ځان پر افغانستان حکومت نه شی کولای او لازمه ده چی ټول دخپل لوری دهیواد دمشکلاتو دحل له پاره دخبرو اترولاره غوره کړی ، او بین الافغانی ډیالوګ او تفاهم له لاری خپلی ستونزی اومشکلات دپردیو له لاسوهنی پرته حل کړی ، اوس هم پر خپل ځای خورا مهم دی او اهمیت یی ورځ په ورځ لاپسی زیاتیږی .

هو همدغه زموږ دمشکلاتو دحل یوازینی لاره ده اوبس.

طالبان چگونه به قدرت رسیدند؟

قسمت اول

تذکر مترجم :

فرایدی ریـوی و Friday Review، ضمیمه، هفته وار روزنامه، انگلیسی زبان نیشن (The Nation) چاپ راولپندی مرکز ایالت پنجاب پاکستان، در شماره، روز جمعه ٤- اکتوبر- ۱۹۹٦ میلادی (۱۳ میزان ۱۳۷۵هـ.ش.) مقاله ای بقلم محترم اشتیاق احمد راجع به پیامدهای منطقوی فتح کابل توسط طالبان، به چاپ رسانیده است که جهت اطلاع خوانندگان عزیز روزنامه شهادت از دیدگاههای محللین سیاسی پاکستانی، ترجمه، دری آنرا تقدیم میداریم.

تذکر این نکته نیز لازم بنظر میرسد که برخلاف تصور نویسنده، طالبان با وجود برخورداری از حمایت ادعائی عربستان سعودی، هرگز مخالفت شانرا با وهابیت کتمان نکرده اند. بارها از طالبان شنیده شده است که وهابیان را "بدتر" از کمونستان میپندارند.

حامد

از جناب علاءالدین بروجردی معین وزارت امور خارجه، جمهوریت اسلامی ایران در امـور جنوب آسیا و بحرالکاهل، بپرسید: چرا کابل به این سادگی بدست طالبان سقوط کرد؟ چرا قوای مشترك بزرگانی چون مسعود، ربانی و حکمت یار بدون مقاومت زیاد در برابر طالبان، از کابل فرار کردند؟ و در داخل و در بیرون از افغانستان تحت سیطره، طالبان چه پیش خواهد آمد؟

هیچ کسی نمیتواند بهتر از شاغلی بروجردی به این سؤالات پاسخ بگوید. زیرا عمدتاً در اثر بیشتر از یك سال شتل دیپلوماسی- وی در سر تـا سر افغانستان بود که سر انجام برای اولین بار اداره، ائتلافی ای مشتمل بر حریفان سرسختی چون مسعود و حکمت یار در کابل پدید آمد.

از دیدگاه تهران که در نظر داشت در جریان همین ماه، کنفرانسی از جناحهای افغانی را در تهران برگذار کند، همه چیز زیررو شده است.

از دید روزنامه، جمهوری اسلامی برنامه، تصرف کابل بوسیله، طالبان "توسط امریکا طرحریزی و توسط سعودی تمویل گردیده و پاکستان از آن حمایت لوژستیکی بعمل آورده است."

تحلیل این روزنامه، طرفدار حکومت، شاید اغراق آمیز بنظر برسد. اما، اگر نگاهی داشته باشیم به قصه، پیروزیهای دوساله، جنبش ستیزه جوی طالبان، و نیز با عطف توجه به بعضی از حرکات نیروهای خارجی دخیل در افغانستان، منهای ایران، به نظر میرسد که در آنچه از دید روزنامه، ایرانی در افغانستان اتفاق افتاده است، شاید مقداری حقیقت نیز نهفته باشد.

حقیقت امر اینست کـه ایالات متحده، امریکا در صدد محکم کردن کمندی است که بدور ایران انداخته است. پیروزی طالبان، فی الواقع، سومین مرحله، سلسله، موفقیتهای ایالات متحده درهفته های اخیر، در جهت به انزوا کشانیدن یا محاصره کردن ایران در منطقه بکار میرود. ایرانیان در طول دو سال گذشته منتهای سعی شانرا بعمل آورده اند تا نفوذ شانرا به سه ناحـیه، مختلف سرحدی یعنی خلیج، شمال کـرد نشین عراق و افغانستان گسترش دهند. ولی بالمآل در هر سه محاذ با ناکامی مواجه گردیده اند. در شمال عراق، چریکان کرد طرفدار صـدام شکست فاحشی بر شورشیان کرد طرفدار ایران وارد آورند. در عین حال، ترکیه به ایران اخطار کرد که خود را در قضیه، کردان عراقی دخیل نسازد. در خلیج، ادعاء شده است که حکومت ایران سال گذشته از یك قیام شیعی در بحرین پشتیبانی کرده است. باید بخاطر داشت که پس از حملات اخـیر راکتی توماهاك امریکاییان بر بغداد، علاوه بر کویت، بحرین تنها کشور خلیج بود که به ایالات متحده اجازه داد قوایش را در خاك بحرین مستقر سازد.

اینك باید تصور کرد که اگر در عین حال طالبان بقیه، ولایاتی را که در حال حاضر در دست قوای اداره، قبلی کابل قرار دارند، تصرف کنند، چه پیش خواهد آمد؟ بلی! دقیقاً از همین نقطه است که تشویش رژیم محافظه کارشیعی ایران در مورد بقای خودش آغاز میشود. زیرا انگیزه، تلاشهای طولانی و طاقت فرسای بروجردی، آرزوی ایران دوران مرحوم خمینی مبنی بر صدور انقلاب نوع خاص مذهبی ایرانی به دول همجوار ایران نبوده است، بلکه هدف از آن تلاشها، مقابله با قوتگیری طالبان از طریق تقویت همه، جناحهای ضد طالب در افغانستان بود.

سؤال اصلی و کلیدی اینست که از ناحیه، طالبان، چه خطری متوجه ایران خواهد گردید؟

طالبان از ولایـات سی گانه، افغانستان، بیست ولایت را در چنگال گرفته اند. شیوه ایکه طالبان برای گسترانیدن ریشه های نهضت خود تا حال در پیش گرفته اند، پاسخ به سؤال فوق را ارائه میکند.

وضعیت میدان جنگ افغانستان، همواره دارای یك بعد خارجی بوده است. جنگها و درگیریهای پس از سقوط رژیم تورنجنرال نجیب را نمیتوان از قاعده، فوق الذکر مستثنی خواند. در ایامیکه ایالات متحده در افغانستان سرگرم یك جنگ بالواسطه علیه قوای شورروی بود، بعد بیرونی درگیری بمراتب آشکارتر و نمایانتر بود. پس از انسحاب قوای اتحاد شورروی، محرکات بیرونی جنگ داخلی افغانستان که بین جناحهای داخلی این کشور در جریان بود، محدود و منحصر بوده است به حمایتی که سری و پوشیده است؛ انگیزه هایی که مخفی و نهان اند؛ و اهدافی که طویل المدت اند.

از همان زمانیکه طالبان بعنوان یك نیرو در ولایت قندهارعرض اندام کردند، این تشویش و اندیشه وجود داشت، علی الخصوص نزد ایرانیان، که طالبان توسط پاکستان حمایت وتوسط عربستان سعودی تمویل میشوند.

در آن ایام این اندیشه نیز وجود داشت که جنبش طالبان، ولو که در بدو امر یك نیروی ارتجاعی سنی بشمار میرفت، از تأئید ضمنی امریکاییان نیز برخوردار است. گفته میشد که سعودیان مایل به گسترش وهابیت به دول آسیای مرکزی (ماوراء النهر) هستند و افغانستان میتواند بعنوان یك معبر و گذرگاه بهمین منظور مورد بهره برداری قرار گیرد. همچنان گمان میرفت که پاکستان مایل به توسعه، روابط تجاری اش با دول ماوراء النهر هست. البته این کار صرفاً زمانی امکان پذیر میگردید که یك اداره، طرفدار اسلام آباد در افغانستان حاکم میبود. از طرف دیگر، با عطف توجه به خصومت طولانی ایالات متحده، امریکا با ایران، هر آن اداره، حکومتی در کابل که دارای روابط نزدیك با عربستان سعودی و نیز پاکستان میبود، میتوانست باب میل ایالات متحده، امریکا نیز باشد.

-- ادامه دارد --

راځی چی دحکومت دټاکلو حق ملت ته ورکړو

عبیدصافی

لدې مسلم حقیقت نــه هیڅوك سترګي نشي پټولي چي پـه هرهیواد کي ملت دپریکړي رول لري پـه خاصـه توګه دحکومت دټاکلو په مسئله کي خو قاطع نقش لوبوي، پــه کومو هیوادوکي چي ملت تــه دحکومت جوړولو حق ورکړشوي هلته نه خوڅه ډول وسلوال جنګ تــه لاره هواره شوي او نــه قومي، ژبني اوسمتي تعصبونو سراوچت کړیدي، برعکس په کومو هیوادونوکي چي ملت له نظره غورځول شوي اوحکومت ته درسیدو لپاره له زور ظلم اووسلي نه کارآخستل شوي هلته نه خوپوملي اومقبول حکومت منځ تــه راغلي او نه ترقي اوامن ته فرصت پیداشوي بلکي ټول عمر دااقتدار په ناجائز کشمکشونوکي دهیواد قیمتي پانګه تالا ترغه شوي، افغانستان هم یوله هغوبدبختو هیوادو څخه دي چي ټول عمر د اقــتدار په سرناروا مسابقي شوي او پـــه زوره اقتدارته درسیدولپاره هــر وخت له وسلونه کارآخستل شوي، همدا وجه ده چي ترننه پوري افغانستان سره لدي چي لـه هرډول طبیعي منابعو څخه معمور دي دغربت ، افــلاس او له محتاجي نـــه ډك ژوند تیروي اوپه هرمیدان کي وروسته پاتي دي، ملت پخپل هیوادکي دننه دااقتدار دلیونیانو دلاسه دغلامي شپي سباکوي ، په ژبه ئي دچـــوپتیا مهرونه لګول شوي اوهرظالم چي راشي ملت دخپلي ګټي لپاره دطوطي پشان غږوي اوهغه څه وړباندي وائي چي ددوي په ګټه وي، بیچاره ولس دیومهارشوي څاروي په شان بي وسه اوبي اختیاره دي اونشي کولي چي دخپل ضمیرآواز پورته کړي اوکه څوك ئي پورته کړي نوژبه ئي غوڅیږي اودبغاوت پـه جرم کي ورته دمرګ سزاهم ورکول کیږي ، نـــن سبا د افغانستان مسلمان ملت لـه یو بدترین سرنوشت سره مخامخ دي چي نه ئي انساني حقوقوته څوك اهمیت ورکوي اونه ئي جمهوري حقوقوته څوك په درنښت ګوري، نه ئي دضمیرآزادي ته څوك پرواکوي اونه ئي دخپلي خوښي دحکومت ټاکلوحق ته څوك تن ږدي، لنډه دا چي د افغانستان مسلمان ملت دااقتدار دلیونیانو په وړاندي دبېږي دخاشاکومثال لري چي هر یو دخپلي ګټي لپاره په پوره بي رحمي سره سوځوي ، خوپوښتنه دا را پیدا کیږي چي دالوبه به کله پاي ته ورسیږي ، کله به دافغانستان داکړېدلي، ربړېدلي اومحروم ولس له خپلوحقونو برخمن کیږي؟ هغه پــه کومه نیکمرغه اوبختوره ورځ وي چي د افغانستان مسلمان ملت ته دضمیرآزادي ورکړي شي اوټول جنګي مشران له خپل ناروا حرکت نه لاس واخلي .

داقتدارپه سرجنګي کشمکشونو هیواد یونازك اوخطرناك حالــت سره مخامخ کړیدي، ګاونډي هیوادونه هم دافغانستان دلانجي په سر یوله بل سره درقابت په میدان کي ودرېدلي اوهریو څانته څانته دریځونه خپل کړي، که یوطرف تـه ځیني هیوادونه دطالبانو پرکامیابي خوښي څرګند وي نوبل طرف ته ځیني نورهیوادونه دطالبانوتحریك ته دشك اوكركي په نظرګوري، دننه په افغانستان کي هم ولس څانته څانته فکرونه لري که څــه وګــړي دیوڅا حکومت خوښوي نو بیا نور ئي ترینه نفرت‌کړي اونه ئي خوښوي، لنډه داچي په افغانستان کي سیاسي اوجنګي حالت داسي پړاوته رسیدلي چي که په وخت یي مخه ونه نیولی شي نو ددي خبري قوي امکان شته چي افغانستان خــپل ملي یووالي اواستحکام ونه ساتلي شي اوبالاخره خداي مه کړه زموږ مظلوم هیواد له تجزیي سره مخامخ شي ، دي لپاره چي دغوږدګټلو پرځــاي سرویاپلو او بیا لاسونه مروړو پکاردي چي له همدي نن ورځي نه دجوش اوجنون پرځاي هوش اوفهم نه کاروواخلو لـه خپل دماغ اوزړه نه تنګ نظري ختــمه کړو اوپرځاي یوپراخ، هراړخیزاومعتدل فکر په دماغ کي ځاي پرځاي کړو، دخپلوشخصي ګټواودخوورځودناروااقتدارپرځاي داسلام هیواد او ملت ګټوته ترجیح ورکړو،ځکه چي دهیواد پــه بقا کي زموږدټولو عزت اوآبرومضمردي .

دي لپاره چي هیوادوال نورله رنځ ګړاو، ظلم جبر، بي عدالتي لوټي ، تندي، جهالت اودربه دري نه خلاصون بیاموني اوهیواد له تجزیه کیدو څخه وژغورل شي نوپکاردي چي په سره سینه دخپل هیوادمسلـمان ملت حقوق ومنل شي هغه دا چي په زوره اودجنګ له لاري دحکومت دنیولو ناروالوبه ختمه کړو او پرځــاي داحق دافغانستان مسلمان ولس تـه ورکړو چي دخپلورایو داستعمال پـه نتیجه کي دخپلي خوښي اسلامي حکومت جوړکړي، داځکه چي دیــو سالم او قانوني حکومت دجوړولولپاره قطري اوقانوني لاره همداده چي دملت خوښي ته رجوع وشي اودخپلي خوښي سره سم حکومـت وټاکي، الحمدالله چي دافغانستان مسلمان ولــس دفهم اوفراست خاونددي، له پخوانه زیات معلومات اوتجربي لــري، ددي خبري پوره اهلیت لري چي دخپل هیواد دبقا اوخوشالي لپاره زړه سواندي اوزیرك قیادت منتخب کړي اوولس لـه اوسنیو دردوونکو لانجونه خــلاص کــړي، دطالبانو په شمول ټول هغه قوتونه چي دافغانستان اقتدارته درسیدو لپاره لیواله دي اوداادعالري چي دولس ښیګڼه ئي اصلي هـــدف دي نو بیا پکارده چي پخپل سردوسلي اوجنګ له لاري پــر حکومت قبضه کولو داموجوده ناروا روش پریږدي اوپرځاي

پاتی د ٤، مخ ٦، ستون

اربکان وسیاست خارجی ترکیه

اگرچه نجم الدین اربکان اولین نخست وزیراسلام گرای ترکیه دوران معاصر است پیش بینی که بااطمینان صورت می گرفت این بود که وی سبب دگرگونیهای عمیقی درسیاست خارجی ترکیه نخواهدشد. باید به خاطرداشت که، حزب رفاه که وی رهبری آن را برعهده دارد فقط ۲۱/٦ درصد آراء را درانتخابات دسامبرگذشته بدست آورد وتنها ازطریق توافق باتانسوچیلر رهبرحزب غیردینی راه راست است که حکومت می کنـد. چنین توافقی مستلزم آن است که پست نخست وزیری را دوسال دیگربه چیلرتحویل دهد .

باتوجه بـه اینکه ارتـش هنوز نیرومندترین منبع قدرت ترکیه است وی بسیارضعیف خواهد بود ونخواهد توانست درسیاست خـارجی ترکیه طرحی نودراافکند .

طی روزهای گـذشته اربکان ۷۰ ساله که کاملاً بانشاط است چنان انتظاراتی راحداقل درظاهربااتردید روبروساخت . وی در سفری به تهران، باسرصدای زیاد معامله ای را درمورد گازطبیعی باایران به امضاء رساند که برای مدت ۲۳ سال سوخت ترکیه را تأمین خواهد کرد . عملیات گازرسانی ازسال ۱۹۹۹ شروع خواهد شد وارزش آن ۱۸ میلیارد دالر است .

برای ایالات متحده امریکا این معامله یك دهن کجی آگاهانه بود، زیرا دوهفته پیش ازآن کنگره لایحه ای راتصویب کرده بود که به موجب آن علیه شرکتهای خارجی که حداقل چهل میلیون دالر در سال درعملیات نفتی جدید درایران ولیبی سرمایه گذاری کنند، تحریمهایی راوضع می کند . وارن کریستوفر وزیرخارجه امریکا گفت : معامله فروش گازکه بین ترکیه وایران امضاء شد معامله خوبی نیست . کسی که باایران معامله می کند شهروند خوبی برای جامعه بین المللی به حساب نمی آید هرچند که وی پذیرفته است که قرارداد فروش گاز آن گونه که ترکیه می گوید تخطی ازقانون امریکا به حساب نمی آید. ترکیه براین اعتقاد است که قرارداد گازباایران نوعی معامله است نه سرمایه گذاری .

توافق باتهران یکی ازچندین اقدام اربکان بود که به نظرمی رسید جهت سیاست خارجی ترکیه را از سمت اروپا وغرب به سوی آسیا وخاورمیانه تغییر دهــد ، وی درتهران یك باردیگریکی ازوعده هـای انتخاباتی خودرا تکرار کرد وآن ایجـاد یك بازار مشترك اسلامی بـود. ایده ای که توسط ایران بااشتیاق پذیرفته شدوبلافاصله پس از آنکه اربکان به حضـور (حجت الاسلام) هاشمی رفسنجانی رئیس جمهوری ایران رسید وزیرفرهنگ ترکیه دربغداد بود ودرآنجا اعلام داشت که عراق وترکیه خط لوله نفت را که ازسال ۱۹۹۰ یعنی از زمـان جنگ خلیج فارس بسته است بازگشایی خواهند کرد .

بااین وجود، علیرغم ایـن همه نشانه های تغییر، روگردانی ظاهری اربکان ازغرب آن اندازه که به نظرمی رسد برجسته نیست . بـرای مثال، معامله گازبرای مدت سی سال دردستور کاربوده است ونیاز مهم ترکیه برای سوخت رابرآورده می سازد، همچنانکه درمورد معامله نفت بعراق نیز می توان گفت که ایـن معامله بخشی ازبرنامه فروش نفت دربرابر غذای عراق است که توسط سازمان ملل وامریکا تحریم شده است .

اگرسفرخارجی اربکان کـه شامل سفربه پاکستان، اندونزی ومالزی نیز بود، بدان منظور طرح شد تاوی به اعتبار اسلامی خـود رنگ وروی تازه ای بدهد این بدان دلیل است که وی درداخل راه میانه ای رادرپیش گرفته است .

بعلاوه اربکان باپشت کـردن به سیاستهای گذشته اش بیشتر متحدین رادیکال خود را خشمگین کرده بود دوهفته پیش وی اعضای حزب رفاه رادرپارلمان تشویق کرد تاباتمدید مهلت عملیات « عملیات ایجاد آسایش » موافقت کنند، ماموریت هوایی که تحت رهبری امریکا است و پوشش حمایتی را برای کردهای شمال عراق فراهم می آورد وپایگاه عملیاتی آن درترکیه قراردارد .

ازکیهان

دزره خواله

په اسلام کې دښځې مقام

که موږ دبشري ټولنو ژورند ته نظروکړو نوځرګندیږي چې دنړۍ په مخ داوسني تمدن اوپرمختګ یوازې دیوې ولې دفکر اوذهن محصول نه دي بلکه دښځو اونارینوو دګډو هڅو اوشریکو هلوځلوفداکاریو او دوامداروکوششونو تسلسل اوجریان نتیجه ده .

ښځه لکه څنګه چې دکورښایست اوښکلاده حتی تردې چې زموږ سترنبي سرور کائنات حضرت محمد (ص) ښځه دکوروښاګڼلې مومنه اومسلمانه ښځه دکورنه بهرپه ټولنه کې دټولنې په لوړتیا آبادي او نیکمرغي کې سترروڅ لري. خوپدې شرط چې په ټولنه کې دښځوفعالیت اوکارلپاره سالم شرایط برابرشي هغوي چې ښځې دخپلو حقه او مشروع حقوقو څخه بې برخې کوي دابه ستره جفاوي دټولنې دنیمائي څخه زیاتو وګړو په هکله .

داسلام په سپیڅلي دین کې ښځې ته دموراوسرې ته دپلارلقب ورکړ شوي لوي خداي په پاك قرآن کې فرمایي « اې خلکوموږ تاسي له یو نارینه اوبوي ښځې څخه وزیږولي اوبیا موږه څانګواوقبیلوتقسیم کړي ترڅوبیل وپیژني په تحقیق چې ستاسوغوره دخداي په نزد پرهیزګارستاسودي » (الحجرات - ۱۳)

داسلام سپیڅلي دین چې نارینه یې څه مامورکړي ښځې هم ماموره کړي اوله څه ئې چې نارینه منع کړي ښځه یې هم ورڅخه منع کړي پاك الله په قرآنکریم کې فرمایي : « بیشکه مسلمان سړي اومسلماني ښځې اوایماندارسړي اوایمانداري ښځې اوبندګي کوونکي سړي اوبندګي کونکي ښځې ریښتوني سړي اورښتوني ښځې صبرکوونکي سړي اوصبرکوونکي ښځې اوخیرات کوونکي سړي اوخیرات کوونکي ښځې روژه دارسړي اوروژه داري ښځې حفاظت کوونکي سړي دخپلوشرمګاوو اوحفاظت کوونکي ښځې اویادوونکي سړي الله لره ډیر اویادوونکي ښځې تیارکړيدي الله ددوی لپاره معافي اوثواب لوي » (الاحزاب - ۳۵)

نوداڅرګنده شوي چې ښځې اوسړي په ثواب اوګناه کې سره برابردي نوهمداشان په انساني کرامت کې هم مساوي اوبرابردي چې پاك الله په قرآنکریم کې داسې فرمایي :

« په تحقیق سره موږ عزت ورکړ دآدم اولادي ته » (الاسراء - ۷)

چې دلته دادم داولادي څخه مراد ښځه اونارینه دواړه دي نودښځوتحقیر اوتوهین دانساني کرامت او داسلامي ارشاداتوخلاف عمل دي .

داسلام سپیڅلي دین کې جنسیت معیارګڼل شوي نه دي بلکه دانسانانو په منځ کې دغوره والي معیار تقوا ده چې پدې هکله پاك خداي داسې فرمایي : « بیشکه عزتمند په تاسوکې دالله په نزد زیات پرهیزګارستاسودي » « الحجرات - ۱۳ »

نوپدې توګه سپیڅلي اسلام دنراوښځې ترمنځ دواکمنې اوغوره والي معیارله منځه وړي سرورکائنات حضرت محمد(ص) دقرآني آیت په حکم په ووسره بیعت کاوه چې دخداي له طرفه ورته امروشوچې کوم وخت مسلماني ښځې دبیعت لپاره تاته راشي نوله دوي سره بیعت وکړه .

نوښځوبه داسلام سترپیغمبر سرورکائنات حضرت محمد(ص) سره بیعت کاوه چې بیعت په اوسني شرایطو کې دسیاسي حقوقو څخه ګڼل کیږي اوداهغه حق دي چې اسلام ښځوته ورکړي اوپدې توګه یې ښځې دنارینوو سره مساوي ګرځوي اسلام په کارونو کې دشورې سپارښتنه کړي چې خطاب یې یوازې نارینووته نه دي بلکه نارینوو اوښځودواړوته دي. داسلام سترپیغمبر به همیشه د بي بي خدیجې سره په هرکارکې مشوره کوله .

داسلام سپیڅلي دین دښځومالي حق په رسمیت پیژندلي اوهغې ته یې دنارینوو سره یوشان دتملك حق ورکړي .

اسلام دښځې نظرته دومره ارزښت ورکړي چې ددې رضایت یې په نکاح کې شرط ګڼلي .

اسلام ښځه دپخوانیو پیړیوله محدودې څخه ایستلې هغې دناپوهي اوبې سوادۍ دتورتم څخه دعلم اوپوهې روښانه سباوون ته هدایت کړي داسلام دین لومړي دین وچې ښځوته یې دنارینوپه شان مساوي حق ورکړي چې علم زده کړي په حدیث شریف کې په دې هکله داسې راغلي چې « العلم فریضة علي کل مسلم ومسلمة» یعني داچې علم فرض دي په هرمسلمان نارینه اومسلماني ښځې . نوداثابته شوه چې تعلیم هغه حق دي چې اسلام ښځوته ورکړي اودعلم حصول یې فریضه ګرځولي نوهغوي چې دښځو دزده کړي سره مخالف دي نوایا پدې نه پوهیږي چې هرڅومره ښځې دښوونې او روزنې له میدان څخه لرې وساتل شي په همغه اندازه به کورنۍ اوټولنه له ستونزوسره مخامخ وي ښځې ددې حق لري چې پدې پوه شي چې دوي څومره امتیازات اوحقوق لري اوپه څنګ کې څومره وجایب اومکلفتونه وربه غاړه دي . نودغې هدف ته هغه وخت رسیدلې شي چې دوي دعلم اوپوهې په زیوروسینګاري وي که څوك دښځولپاره یوازې ددیني علوموزده کړه لازمي بولي اودنوروعلومو له زده کړي څخه یې منع کړي نوموږ له دوي پوښتنه کوو چې ایا دابه غوره نه وي چې ښځینه ډاکترانې دنوروښځو دنارینوغیبو تداوي وکړي اوښځې په ځای ددې چې پردونامحرمو نارینوته دتداوي لپاره ولاړې شي غوره به نه وي چې ښځینه ډاکترانې وګوري نوزموږ په نظردښځې علومویه څنګ دنورو علومو زده کړه دښځولپاره دوخت اهم ضرورت بولو موږ ښځوته یوازې دخوراك څښاك اوپوښاك په برابرولو اکتفانه کوو موږ غواړو چې افغاني مسلماني ښځې دشرعي حجاب په مراعات کولو سره داحق ولري چې خپلې زده کړي په ښوونځیو اوپوهنتونونوکې ترسره کړي .

موږدخپلو خویندو لپاره دغربي اوکفري ټولنو په شان آزادي اوبې بندوباري نه غواړو موږ غواړوچې زموږ ښځې په ژوندانه کې داسلام روښانه اصول دخپلې لارې مشعل وګڼي اودخپلې ټولني دبشري سترطاقت په توګه دکفري نړۍ اودغرب دناوړه رواجونو اودودونو سره مبارزه وکړي ، ددې هدف ته درسیدلو لپاره ځانونه په دیني اوعصري علوموپه زده کړي سمبال کړي نودپوهې په ګاڼې سینګارمیرمنې داسلامي ټولنې په جوړښت کې ستره ونډه درلودلې شي .

نوزموږ هیله داده چې په ټولنو کې دسالمو امکاناتو اوشرایطو په برابرولوښځوته داحق ورکړشي چې دوي هم دخپلو ورونو په شان دافغاني مسلماني ټولنې دبوسترېشري قشرپه حیث دهیواد په رغاونه اوپرمختګ کې دپام وړرول ولري .

ښځه دکورنۍ او ټولنې په چاپیریال کې

متصدي : معصومه

زن در محیط خانواده وجامعه

ترتیب سني وتاثیرآن درتربیه کودکان

